همکاری آلمان
DEUTSCHE ZUSAMMENARBEIT

افغانستان سره د آلمان همکاري

# د کندز - خلم ملي لویه لار
# بېخبنا اقتصادی پیاوړتیا رامنځته کوي





## وضعیت

د افغانستان په شمال کې د سړک شبکه په کافي اندازه پرمختللې نه ده. نوموړي سړکونه د ترمیم په بد حالت کې دي. ځینې یې په جګړو سره له ویجاړ شوي دي، خو په ډېرو سړکونو کې یې د مخه حتی جغل او خاورې رابرسېره شوي دي. په ډېرو ساحو کې د ښارګوټو ترمنځ مستقیمه اړیکه شتون نه لري، په داسې حال کې چې نورې کلیوالې سیمې په عملي بڼه د سړکونو هیڅ اړیکې نه لري. له کندز څخه مزار شریف ته د تګ لپاره د موټرو او ټرک چلوونکي باید د پلخمري د ښار له لارې ۱۲۰ کیلومتره چکر ووهي. له کندز څخه خلم ته په مستقیم ډول د ۱۱۲ کیلومتره سفر پر ځای، دغه انحراف دوی مجبوروي چې ۲۳۴ کیلومتره لار ووهي، چې په دې سره د دوی د سفر وخت، د تیلو استهلات، د ټرانسپورټ لګښتونه او د کاربن ډای اکسایډ اخراجات دوه چنده کېږي. د کندز او د مزار شریف د اقتصادي مرکز ترمنځ د اتصال نشتوالی د سیمې لوژیستیکي او اقتصادي پراختیا لپاره یو ستر خنډ دی.

## لنډه کتنه

| | |
|---|---|
| پروګرام | د کندز – خلم ملي لویه لار (HKK) |
| دستور ورکوونکی | د آلمان د اقتصادي همکارۍ او پراختیا وزارت (BMZ) |
| شریکان | د افغانستان د ټرانسپورټ وزارت (MoT) |
| برخه اخیستوونکي پروګرامونه | د افغانستان د اقتصادي بېخبنا پراختیا (EIDA)؛ نوموړی پروګرام په افغانستان کې کوچنیو او منځنیو تصدیو ته پورونه ورکوي: د راستنېدونکو کډوالو او داخلي بې ځایه شوو کډوالو ادغام (RESTART)؛ د سولې لپاره دندې (J4P) |
| پلي کوونکی سازمان | د KfW پراختیایي بانک |
| ولایتونه | بلخ او کندز |
| د پروګرام موخه | د شمالي ولایتونو په اقتصادي پراختیا کې د مرستې لپاره د کندز او خلم ترمنځ ملي لار ته وده ورکول |



## موخه

د کندز او خلم ښار ترمنځ د وربېښمو ۱۱۱.۵ کیلومتره اوږد سړک چې پخوا د جغل لرونکي سړک پرته بل څه نه وو، جوړېږي او قیر کېږي. ملي لار ته وده ورکول اقتصادي پراختیا ته وده ورکوي، له شمالي ولایتونو سره په یوځای وده کې مرسته کوي او همدارنګه د بې وزلۍ د کچې په راکمولو او د سولې په پروسه کې برخه لري. کندز په غوره توګه د مزار شریف له اقتصادي مرکز سره په غوره توګه نښلول کېږي چې نږدې ۱.۷ میلیونه خلکو ته په غوره توګه بازارونو او روغتیایي خدمتونو ته لاسرسی برابروي.




د ملي لویې لارې جوړېدنه به د موټر او ټرک چلوونکو ته د کندز او مزار شریف ترمنځ سفر نږدې ۱۲۰ کیلو متره را لنډ کړي

## اقدامات او پایلې

د کندز او خلم ترمنځ ملي لویه لار د آلمان د اقتصادي همکارۍ او پراختیا وزارت (BMZ) په استازیتوب جوړېږي او د افغانستان ټرانسپورټ وزارت ته به وسپارل شي. نوموړی سړک له نا هوارې او ځینې ځایونو کې له غونډیو/ پېچومو څخه تېرېږي. نوموړی سړک به په ارګنک کوتل کې نېغ او پراخه کړل شي ترڅو حتی لوی ټرکونه وکولای شي چې له دغه سړک څخه له ستونزو پرته ګټه پورته کړي. هغه مستقیم اتصال چې نوموړی سړک یې رامنځته کوي، به د کندر او خلم ترمنځ د سفر واټن او وخت تر نیمایي را لنډ کړي.



د سیمې د وګړو لپاره د ټرانسپورټ بنه لاره | © Sweco GmbH

## ځلور پراویزه جوړونه

د ملي لویې لارې جوړول په ځلورو پړاوونو کې ترسره کېږي. لومړنۍ دوه برخې یې له خلم څخه تر ۵۸ کیلومترو پورې د ۲۰۱۷ زېږدیز کال په پای کې بشپړې شوې دي، او تر ٦۸ کیلو مترو پورې د غځولو دریم پړاو د ۲۰۱۸ زېږدیز کال د سپټمبر په میاشت کې بشپړ شوی دی. سیمه ییز خلک او د مشرانو د شوراګانو استازو د ساختماني کار پرمهال له نږدې سلا او مشورې کړې دي. نوموړی کار د پروژې په لا زیات خوندیتوب کې مرسته کوي. د ستونزمنو شرایطو سره سره ساختماني کار ته له ګډوډۍ پرته ادامه ورکړل شوې ده.

## د راتلونکي استفادې لوړ پوټانسیل

د سړک لومړنۍ دوه برخې، په ناوړه مسیر کې د چهار درې ولسوالۍ په لور له کندز څخه ٦.۵ کیلو متره سړک او د خلم ۸ کیلومتره امتداد د ختیځ په لور، له خلکو ډکو او په پراخه کچه کرنیزو سیمو څخه تېرېږي. د سړک د ناوړه او خراب وضعیت چې ځینې برخې یې اوس هم بې سطحې دي او په ځانګړې ډول د چهار درې په شاوخوا کې د امنیتي خطرونو له امله سړک اوسمهال یوازې تر خورا محدوده بریده کارول کېږي. د پروژې اغېزه به یوازې هغه وخت راڅرګنده شي چې ساختماني کار بشپړ شي. څېړنو او سروې ګانو په ګوته کړې ده چې تر د ورځې تر ۱۳۰۰ نقلیه وسیلې به د دې د بشپړتیا په کال کې نوې ملي لویه لار وکاروي.

## د سیمې د اوسېدونکو ګټې

د سیمې اوسېدنکي به همدارنګه د سړک له جوړېدو څخه ګټه پورته کړي او له ډېرو بېخبنایي پرمختګونو څخه مننه وکړي. په سیمه کې ډېر خلک د خپل ژوند او معیشت لپاره پر کرنه تکیه کوي. ملي لویه لار به دوی ته اسانتیا برابره کړي ترڅو خپل توکي ولېږدوي او بازارونو ته د لاسرسي زمینه ورته برابروي. د ملي لویې لارې ترڅنګ به ځاه ګانې وکېندل شي او د لاسرسي لارې به رامنځته شي. دغه اضافي ساختماني کار به د ځایي اوسېدونکو ترمنځ د پروژې د منلو او ملاتړ د کچې په لوړولو او د باور په رامنځته کولو کې مرسته وکړي. د کار په بدل کې د پیسو پروګرام په ګاونډیو کلیو کې اوسېدونکو ته فرصت ورکوي ترڅو خپل ځانونو او کورنیو ته د جوړېدو په موده کې اضافه عاید ترلاسه کړي.



نږدې ۱.۷ میلیونه خلک به د مزار شریف اقتصادي مرکز ته له غوره لاسرسي څخه ګټه پورته کړي

خپرونکی سازمان:
Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH
د بون او ایشبورن، جرمني راجستر شوي دفترونه
www.giz.de
www.gc-afg.de
د انځور اخیستلو امتیاز لرونکی: © Sweco GmbH

Imlemented by:
پلي کونکی:
KfW giz Deutsche Gesellschaft für Internationale Zusammenarbeit (GIZ) GmbH

چنګاښ ۱۳۹۸

اړیکه
**رونالډ شتییر**
په کابل کې د KfW دفتر رئیس
برېښنالیک: Kfw.kabul@kfw.de